Downloaded from: The Digital Library



د مامور فتاح چرګ ته د وررسېدو تنده راکې ډېرېده. خدازده ولې يو ډول ډار، وحشت او سرګردانۍ اخيستی وم. خو له دې ټولو خبرو سره- سره بېرته راستون نه شوم. نه، راکې وينبه شوې تلوسه مې تر دې ټولو پياوړې وه. دغسې مخامخ نور او نور هم وړاندې ورغلم. څو ګامه پس د مامور فتاح د چرګ هم راته پام شو. چټك يې سر راجګ کړ، قارجن له ځان سره څه وترسېده. چرګې هم سره وارخطا غوندې شوې او دغسې حيران حيران يې موږ ته راکتل، چې وار په وار ورنيږدې کېدو. چې ورووسېدم، څو شېبې هماغسې هك حيران مخامخ سره ودرېدو. وروسته له هغه مې په رېږدېدونکو لاسونو خپل چرګ لومړی د مامور فتاح چرګ ته لږ ور اوږد کړ، څو ځله مې پورته کښته ورته وخوځاوه او په دې پسې مې يو دم مخې ته ورخطا کړ. پر مځکه زما د چرګ له درېدلو سره سم دواړه د څټ بڼکې نېغې ودرولې. بد بد يې سره وکتل. بيا يې په ګواښ سرونه يو بل ته وځنډل، څو خوشې ټونګې يې په مځکه ووهلې او چې بېرته يې سرونه راجګ کړل، نو په خپل ټول زور يې پر يو بل باندې ورودانګل. جګړه پيل شوه! خو لومړی بريد زما د چرګ په ګټه نه و. د مامور فتاح چرګ داسې کاپره لغته ورکړه، چې هلته يې راته وغورځاوه. دويم او درېيم بريد يې هم مازې خواشيني راډېره کړه. هر وار چې يې د مامور فتاح پر چرګ بريد وروړ، په هماغه هوا کې به يې داسې لغته ورکړه، چې خوارکی به يې دوه درې ګامه ايسته راته وغورځاوه. خو زما چرګ هم څه داسې بې غېرږ ته مرغه نه و!. بېرته به راپاڅېد، بيا به يې ځان بريد ته تيار کړ او بيا به يې په لاډېر تاو پرې ورټوپ کړل. مګر دا د کاپر مال دومره زورور و، چې هېڅ والله که ورسره کېدل. هرځل به يې داسې ګوزار ورکړ، چې دلته به زه لا له قاره ورته سور او شين شوم. يوځل، دوه ځله، ان څو ځله مې يې لا دا چلند وزغامه، خو اخر نو زما حوصله هم راته تمامه شوه. نه، دا وضعيت تر پايه د زغملو نه و. بايد يو څه مې کړي وای. بايد زه خپله په دې تريخ ساعت کې د خپل چرګ خوا کې درېدلی وای. او همداسې مې هم وکړل. وروړاندې شوم، سيخ مې د مامور فتاح د چرګ شا ته ځان ورورساوه، چې دا و بل بريد ته يې تابيا کوله. سرکوزی داسې په جګړه سور و، چې هېڅ يې زما په ورنيږدې کېدو کې چورت هم ونه واهه. دغسې تېره تېره يې زما چرګ ته کتل او پر له پسې يې سر په ګواښ ورته ځانډه. زما چرګ هم ځان بريد ته چمتو کړ، خو لا يې پر يو بل باندې نه وو وردانګلي، چې د مامور فتاح چرګ مې د نېغ درولو بڼکو په بېخ کې ټينګ له څټه راونيو. دې کار مې زما چرګ هم حيران کړ. ټپ ودرېد. لنډه شېبْ خو داسې لار او ګودر ترې ورك شول، چې نيږدې يې جګړه پرې ايښې وه. خو چې ما د مامور فتاح له څټه نيولی چرګ ور وړاندې کړ او سر مې يې په ګواښ ورته وڅانډه، نو دی هم بېرې پرې راستون شو، په کړس کړس بريدونه يې پرې پيل کړه. د مامور فتاح چرګ مې همداسې سرګردانه په موټ کې شېنکې وهلې او چغېده، که ګوندې ځان راخخه خلاص کړي. خو ما موټ نور او نور هم پرې ورټينګ کړ. هماغسې تر څټ نيولی مې يې سر درګرده خپل چرګ ته ښوراوه، چې ښه مزغن مزغن يې پر دا ککره ککره راته ووهي او ښه سم زړه پرې سوړ کړي. خدازده څومره وخت دغسې تېر شو، چې يو وخت مې چرګ نابېره په موټ کې دروند غوندې شو، نور چغ و چوغ يې هم نه کاوه. حيران مې بېرته خوشې کړ او چې دی پړمخی پر مځکه راته ولوېد، نو زما واښې هم وتښتېدې. چرګ مړ و. د مامور فتاح چرګ مې لکه چې په خپه وروژلی و. دې فکر مې غړې راوړېږدول. وارخطا مې شا و خوا وکتل. د باندې شکر اوس هم څوك نه

Download from: ketabton.com

